مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: کانديدا اکادميسين محمد اعظم سيستاني
ژباړن: سیلانی

۲۰۲۰/۰۶/۲۳

# د افغانستان د نوم بدلون، نامعقولي هڅې

## د دې ليکنې لوستل د هر لوستي افغان لهٔ پاره اړينه ده.

څـو چې دا مـځـکه آسمان وي

څـو چـې دا جـهـان ودان وي

څـو چې ژوند په دې جهان وي

څـو چـې پـاتـې يـو افغان وي

تـــل بـــه دا افـغـانـستـان وي

لهٔ احمد شاه بابا څخه را نيولي د داکتر نجيب الله د واکمنۍ تر پرزېدلو پورې، چې د افغانستان لهٔ ۲۴۵کلن سياسي ژوند سره سمون خوري، هېچا ځانته دا اجازه نهٔ ورکوله چې پهٔ خپلو ليکنو او ويناو کې د تفرقې او بېلتونولۍ مسايل مطرح کړي او يوه بله ستونزه د هېواد پهٔ ستونزو ور زياته کړي. مګر لهٔ بده مرغه پهٔ تېر وروستيو شلو کلونو کې چې لهٔ يوې خوا زموږ ګران هېواد لهٔ امنيتي، اقتصادي، سياسي او د کرونا لهٔ ناروغۍ څخه کړېږي، خو ځينې کسان،چې تعليمي سويه يې د پوهاند او داکتر پهٔ کچه دي، د بيان آزادۍ او د موکراسۍ لهٔ نوم څخه پهٔ ګټې اخستو سره تلويزونونو کې را څرګنديږي او د هېواد پهٔ ملي ارزښتونو لکه د افغانستان نوم او يا هم زموږ ملي هويت « افغان » چې دواړه د هېواد پهٔ اساسي قانون کې ثبت شوي دي او د ملي حاکميت سرې کرښې بلل کيږي، يرغل کوي او د ګران هېواد نوم « افغانستان » غير موجه بولي او د يو داسې نوم غوښتونکي دي،چې ټولو مليتونو ته د منلو وي.

پهٔافغانستان کې لهٔ ۲۰ قومونو ( پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، پشه يي، ترکمن، بلوچ، نورستاني، ايماق، عرب، قرعيز، قزلباش، ګوجر، براهويي، اورمړ، شغنانی، پاميري او نور...) ډېر ژوند کوي. کهٔچېرې د هر قوم لهٔ نوم څخه دهغه لومړي دوه توري غوره کړو، نو د ۴۰ تورو مرکب يو نوم ترې جوړيږي، چې ليکل او لوستل يې ناشونې او د خندا وړ دی. موږ نشو کولی داسې يو نوم جوړ کړو چې د ټولو اقوامو او مليتونو استازيتوب او ښکارندويي وکړي، برعکس د اقوامو تر منځ بحث او لانجې لا زياتيږي او د اقوامو ترمنځ د نفاق لامل ګرځي. دا هغه څهٔ دي چې دوښمن ورته پهٔ دوه پښو ناست دی او همدا ورځ لهٔ خدايه غواړي چې يو ځل بيا افغانان پهٔ خپلو منځونو کې يو بل وخوري او زموږ لاسوهنو ته لاره هواره شي.

لهٔ بده مرغه ځينې خاصې کړۍ چې بهرنيو حلقاتو پورې تړلي دي پهٔ اګاهانه توګه د خلکو تر منځ د نفاق اور ته تېل شيندي او ادعا کوي چې زموږ هېواد لهٔ اسلام وروسته د ۱۴۰۰ کلونو پهٔ موده کې د خراسان پهٔ نامهٔ ياد شوی دی او بايد همدا نوم د افغانستان ځايناستی شي. دوی ددغې ادعا د ثبوت لهٔ پاره د شاعرانو پهٔ ځانګړې توګه د مهر ا مير



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

افضل خان سجع د سند پهٔ توګه راوړي، دا پهٔ داسې حال کې ده چې د شاعرانو پهٔکلام کې د خراسان د نوم يادونه د باوري سند پهٔ توګه نهٔ شميرل کيږي. شاعران تل دخپلو واکمنو صاحبانو پهٔ ستاينهٔ کې تر دې کچې مبالغه کوي چې د خپل څښتن مقام تر نهم آسمان پورې لوړوي. ترڅو د خپلو انعامونو شمېر ډېر کړي، کهٔ داسې نهٔ وي، نو هم داکتر رهين پوهيږي او هم داکتر جاوېد پوهېدهٔ چې نهٔ افضل خان او نهٔ هم د هغه پلار امير دوست محمد خان د خراسان پر ايالت يعنې مشهد او نيشاپور واکمني درلوده او لهٔ هغو ولايتونو يې ماليات نهٔ تر لاسه کول. طبعآ هغو هېوادونو چې افغانستان ته ماليات نهٔ ورکول ، بل هېواد او څواک پورې تړلي و. نو پر دې بنسټ د مهر امير سجع نشي کولی د افغانستان د واکمنۍ قلمرو يا کرښې ثابتې کړي.

واقعيت دادی چې داسلامي پېر پهٔ لومړيو پېړيو کې د اسلامي خلافت پهٔختيځه برخه کې دوه اداري موجودې وې چې لهٔ خلکو څخه يې پهٔ شرقي قلمرو کې ماليات را غونډول. يو لهٔ دغو دوو مرکزونو څخه زرنج د سيستان پلازمېنه وه، چې تر کابل او پهٔ هندوکش کې د بلخ رود تر لومړي او لهٔ هغه ځايه تر سنده پورې شامليږي. دطبري پهٔ وينا د اسلام پهٔلومړيو پېړيو کې سيستان لهٔ خراسان څخه لوی او سرحدات يې ډېر همدارنګه وګړي يې هم زيات و. د سند او د بلخ رود تر منځ سيمه د خراسان پر وړاندو موقعيت درلود. « تاريخ طبری، ترجمه ابوالقاسم پاينده،چاپ ۱۳۵۲ تهران، ج ۵، ص ۲۰۱۵ «

پهٔدې برخه کې د لوستونکو پاملرنه د منځنۍ پېړۍ خراسان، قهستان او سيستان ته را ګرځوم چېې پهٔ ۱۹۰۵ م کال د انګليسي ختيځ پېژندونکي لسترانج لهٔ خوا ترسيم شوې او د « جغرافيای تاريخي سرزمينهای خلافت شرقي» پهٔ۲۵ څپرکي کې ثبت شوې ده. خو د نقشې د راوړلو څخه مخکې غوره ګڼم چې د خراسان پهٔ هکله د لسترانج سپړنه ولولو.

»ګ.لسترانج » پهٔ خپل پېژندل شوي اثر ( جفرافيای تاريخی سرزمينهای خلافت شرقی» کې د اسلامي شرقي خلافت خوا و شاه پراته هېوادونو د ښارونو، کليو، رود خانو، بندونو، تجارتي او مواصلاتي لارو پهٔ هکله څېړنه تر سره کړې او يو جامع اثر يې پرې ليکلی دی. ګ.لسترانج د ياد کتاب پهٔ ۲۷ څپرکي کې د خراسان پهٔهکله داسې ليکلي دي:

خراسان پهٔپخوانۍ پارسي ژبه کې د ( خاور زمين ) پهٔمعنا ده. دا نوم د منځنيو پېړيو پهٔ لومړيو کې پهٔ ټوليزه توګه د ټولو هغو اسلامي ايالتونو لهٔ پاره کارول کېده چې د خاور ( ختيځ ) سيمو کې لهٔ کويرلوت څخه را نيولې د هند تر غرونو پورې موقعيت درلود. پهٔ دې توګه پهٔ شمالي خاور کې د ماوراء النهٔر ټول ښارونه او سيمې پهٔ استثنا د سيستان او قهستان پهٔجنوب کې شامليږي. د خراسان باندنۍ کرښې د چين بيابانونه، پامير او د هند لهٔ لوري د هندوکش تر غرونو پورې و. مګر وروسته يادې کرښې هم کره او هم کوچنۍ شوې، تر دې پورې چې ويلی شو، خراسان پهٔ منځنيو پېړۍ کې د ايران لهٔ يو ايالت څخه و.د خاور پهٔ شمال کې د جيحون رود څخه ورهاخوا سيمې پهٔ کې نه شاملېدې، مګر د هرات لوړې سيمې چې همدا اوس د افغانستان لويديځه برخه کې دي، را نغاړي .

پهٔ منځنۍ پېړۍ يا د اعرابو پهٔ پېر کې د خراسان ايالتونه پهٔ څلورو برخو يا ربعو وېشل کيږي او هره برخه يا ربعه د څلورو لويو ښارونو څخه د يوهٔ پهٔ نامهٔ يادېدهٔ، دا لوی ښارونه يا ايالتونه عبارت دي لهٔ : نيشاپور، مروه، هرات او بلخ څخه. نو د لومړيو اسلامي فتوحاتو څخه وروسته د خراسان ايالت پلازمېنه مروه او بلخ و، مګر وروسته د طاهريانو پهٔ دور کې د خراسان پلازمينه يې نيشاپور ته انتقال کړه، چې داسيمه پهٔ لوديځه برخه کې يوه مهمه سيمه بلل کېده. ( لسترانج، جفرافيای تاريخی خلافت شرقی، ترجمه محمود عرفان، تهران ۱۳۳۷، صفحات ۴۰۹-۴۰۸ )

دغه نقشه پهٔ ډېره ښه او ښکاره توګه د عباسيانو د خلافت پهٔ دور( د مغولو لهٔ يرغل مخکې ) کې د خراسان حدود او کرښې را ښيي. دلته ليدل کيږي چې قهستان، سيستان او د افغانستان نيمه برخه لکه: کندهار، غزني، کابل او جنوب ختيځ ولايتونه پهٔ خراسان کې شامل نهٔ و. نو پر دې بنسټ پهٔ ټول افغانستان د خراسان د نوم ادعا د تاريخي او جغرافيايي واقعتونو خلاف ادعا بلل کيږي.

پرته لهٔ شکه چې د سيمو جغرافيايي تحولات د هماغو سيمو او پهٔ ټوليزه توګه د نورو سيمو لهٔ سياسي تحولاتو سره تړلې وي او د تل لهٔ پاره پهٔ يوه بڼه نهٔ پاتې کيږي، کله پراخ او کلهٔ هم کوچني شي. لکه څنګه چې يو موده خراسان يوه لويه سيمه وه او د افغانستان و ماوراء النهر ډېرې برخې پهٔ کې شاملې وي، مګر داسې وخت هم را ورسېدهٔ چې خراسان د افغانستان يوه برخه شوه. خراسان د صفاري سيستان، غزنويانو، غوريانو او د احمدشاه بابا پهٔ دولتونو کې د افغانستان يوه برخه وګرځېده او نن لهٔ افغانستان څخه لا کوچنی شوی چې د ايران دولت يوه برخه ده.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بل واقعیت دادی، چې د خوارزمشاهیانو پر سیمو د مغلو په یرغل کې چې په۶۱۸ هجري کال ترسره شو او مغولان د دوو پېړیو لهٔ پاره په د غهٔ سیمه کې مسلط شوو، نو خراسان د لومړیو اسلامي پېړیو مفهوم او پراختیا لهٔ لاسه ورکړه او د خراسان حدود او کربنې یوازې نیشاپور او طوس پورې ځانګړې شوې.

د مغلو پههماغهٔ دور کې چې مغولي واکمن ملوک کرت ( کرد ) پههرات کې واکمني درلوده، افغانستان د فراه او د هلمند رود پهٔ جنوب کې د هغوی لهٔ یو مهمو ولایتونو څخه شمېرل کېدهٔ. دا موضوع د سیفي هروي پهٔ تالیف شوي اثر ( تاریخنامه هرات ) کې چې د اوومې پېړۍ پهٔ لومړیو کې لیکل شوې، یاده شوې ده. ددې ترڅنګ پهٔ یاد تاریخ کې د افغانستان نو ۳۵ ځلې یاد شوی دی. ( تاریخنامه سیفي هروی، چاپ محمد زبیر صدیقیان، کلکته،صفحات: ۱۸۶، ۷۳،۴۲۶،۴۰۰،۱۹۶، ۶۷۶ وغیره.

د نهمې هجري پېړۍ پېژندل شوی جغرافیه لیکوونکي معین الدین زمچي اسفزاري باربار لهٔ افغانستان څخه یادونه کړې او پهٔ یو ځای کې هغه افغانستان د هرات لهٔ توابعو څخه ګڼلی دی. پهٔ دې هکلهٔ داسې لیکي: « امراء وویل چې اسفزار، فراه او سجستان د د افغانستان تر سیمو د هرات لهٔ توابعو څخه دي....» [ روضته الجنات فی اوصاف مدینهٔ الهٔرات، به تصحیح و تحشیه کاظم امام، ۱۳۸۸، ج۱، ص ۶۱ ]

نو پهٔ دې اساس د افغانستان نوم د انګلیسانو لهٔ لومړي یرغل څخه ۶۰۰ کالهٔ پخوا د افغانانو لهٔ پاره یو پېژندل شوی نوم و، چې کندهار یې د دسوداګریزو راکړه ورکړو او لهٔ هندوستان څخه هرات او خراسان ته د سوداګریزو کاروانونو د لېږد را لېږ مهم مرکز بلل کېدهٔ>

کله چې احمد شاه بابا د خپلواک افغانستان واکمن شو( ۱۷۴۷ م )، د صفوي، بابري او د ماوراء النهر دولتونو ترمنځ د افغانستان د وېش ۲۵۰ کاله تېرشوي و. د یادو کلونو پهٔبهیر کې د افغانستان هر یو ولایت د یادو امپراطوریو د بیګلر، بیګي ( والي ) یا صوبه دار لهٔ خوا اداره کېدهٔ، صوبه دارانو یا والیانو به د خپل واک لاندې سیمو څخه مالیات را ټولول او خپل نظامي او اداري مصارف به یې لهٔ همدغو مالیاتو څخه پوره کول او پاتې مالیات به یې د اړوندې امپراطورۍ مرکز ته استول. پهٔ دغهٔ دوه نیمو پېړیو کې نني افغانستان هېڅکله د خراسان په نوم نهٔ دی یاد شوی او نهٔ یې د هند بابري دولت، نهٔ هم د ماوراءالنهر شیباني دولت او نهٔ هم د ایران صفوي دولت ته مالیات ورکړي دي .

فلهذا هغه ادعا چې افغانستان د شاه شجاع تر راتګه پورې ( ۱۸۳۹ م ) د خراسان پهٔ نامهٔ یادېدهٔ، یوه بې بنسټه ادعا ده . دېر لرې نهٔ ځو، افغانستان ته د شاه شجاع لهٔ بېرته راتګ څخه څلوېښت کالهٔ مخکې پهٔ هغهٔ تړون کې چې په۱۸۰۱م کال د جنوري په۱۰ نېټه د انګلیسانو د سفیر( سرجان ملکم ) او فتح علي شاه قاجار تر منځ لاسلیک شو، پههغه کې د افغانستان او د افغانستان د پادشاه یادونه شوې ده . کهٔچېرې زموږ د هېواد نوم افغانستان نهٔ وی او د ګاونډیو ترمنځ پهٔ یاد نوم نهٔ یادېدی، نو دا به څنګه ممکنه وه چې پهٔ یو رسمي تړون کې دې دافغانستان نوم ذکر شي. ( دیده شود: افغانستان در پنج قرن اخیر از فرهنګ و نیز تاریخ غبار )

د یادې ادعا د تکذیب لهٔ پاره بل دلیل دادی، چې دتیمور شاه دراني پهٔ وخت کې انګلیسي جورج فوستر، د هند، پېښور، کابل، کندهار او هرات لهٔ لارې ایران ته تللی دی، هغهٔ پهٔ خپل یونلیک یا سفرنامه کې د افغانستان د نوم یادونه کړې ده. د یاد نونلیک نوم دادی:

George forster: travel over land from bangal to England via Afghanistan. 1783

د دغهٔ یونلیک لهٔ نامهٔ څخه څرګنده ده،چې د تیمور شاه دراني پهٔ وخت کې زموږ هېواد د افغانستان پهٔ نانهٔ یادېدهٔ، او خپل قلمرو یې پهٔ هماغهٔ نامهٔ یاداوهٔ کوم چې ددهٔ پلار احمد شاه دراني یادوهٔ.

پهٔ۱۳۷۱ ه کال د ثور پهٔ میاشت پر کابل د جهادي تنظیمونو یرغل سره ځینو پردیپاله او تجزیه غوښتونکو اشخاصو د افغانستان د تجزیې او د خراسان نوم د خلکو پهٔ منځ کې مطرح کړ، حتا تر دې چې د سالنګ پهٔ تونل کې یې هم ولیکل چې خراسان ته بنه راغلاست او ځینو حتا دا موضوع پهٔ بهرنیو رسنیو کې هم مطرح کړه، خو لهٔ نېکمرغه هېواد پالو او مترقي غوښتونکي اشخاص ددې ډول توطیئو پر وړاندې ودرېدل او دا توطیئه یې پهٔ ریښه کې لهٔ منځه یوړه. ځکه هېواد پاله او ملي اشخاص پهٔ دې پوهېږي چې زموږ هېواد رواني ستونزې لکه: فقر، زور واکي، د مخدر توکو قاچاچ، غصب، بې عدالتي، ناپوهي او وژنې زموږ د هېواد د نوم پهٔ بدلون پورې اړه نهٔ لري او یاهم لهٔ منځه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نهٔ ځي. خو ښکاره خبره ده چې ددې ډول طرحو وړاندیز د پردیو لهٔ خوا زموږ د ملي وحدت د لهٔ منځه وړلو، د داخلي جګړو د رامنځته کولو او پهٔ ټولیزه توګه خدای مه کړه د هېواد تجزیې ته لاره هواره وي.

دا باید پهٔ یاد ولرو چې د افغانستان د نوم بدلول نهٔ ځلويښت کلنې جګړې ته د پای ټکی ږدي،نهٔ هم د داعش او طالبانو د یرغل او وژلو مخه نیسي او نهٔ هم دا روانه جګړه د افغانستان د نوم لهٔ پاره پیل شوې ده. کهٔ زرځله د پردیو او بهرنیو پهٔ ملاتړ د افغانستان د نوم دبدلون لهٔ پاره هڅه وکړي، دا کار نشي کولی او نهٔ هم دوی د طالب ځواک ته د درېدو توان لري یو ځل بیا کابل پردي او پهٔ تېښته بریالي کيږي.

غواړم پهٔ دې برخه کې پهٔ ډاګه کړم،چې کهٔ دافغانستان نوم پهٔ۱۷۴۷م کال اېښودل شوی، کهٔ پهٔ۱۸۰۱م کال، کهٔ۱۸۳۹ م کال او یا هم د امیر عبدالرحمن خان پهٔ وخت کې پهٔ رسمیت پېژندل شوی دی. نو تر ټولو مهمه خبره داده چې نن همدا نوم د نړۍ پهٔ ټولو نقشو او پهٔ نړیواله ټولنه کې پېژندل شوی نوم دی همدارنګه پهٔ دغهٔ نوم ددې هېواد وګړي پېژندل کيږي او پهٔ ملګرو ملتونو کې دا نوم ثبت شوی دی. هېره دې نهٔ وي چې پهٔ دغهٔ نوم او د دغهٔ هېواد پهٔ وګړو پهٔ زرګونه مقالې، کتابونه، عملي سمینارونه او کنفرانسونه وړاندې شوي او چاپ شوي دي. بل نوم ددې هېواد پهٔ نوم ور وزیاتول یا بدلو نهٔ کوم درد او ستونزو ته دپای ټکی ږدي، بلکې برعکس د اوسني نظام پر وړو نورې ستونزې هم ورزیاتوي او ملي وحدت ته زیان رسوي.

On Thu, Jun 11, 2020, 9:15 AM Tamhid Saylani <tamhidrpk123@gmail.com> wrote:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ